اونیزہ مجلہ :335
WEEKLY BOOKLET:335

بیان
6 رجب المرجب 1444ھ
28 جنوری 2023ء

# فیضانِ غریب نواز رحمۃ اللہ علیہ

پارٹ 14




شیخ طریقت، امیرِ اہلِ سنّت، بانیِ دعوتِ اسلامی، حضرت علامہ مولانا ابو بلال
محمد الیاس عطّار قادری رضوی دامت برکاتہم العالیہ

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

# فیضانِ غریب نواز رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ [1]

دُعائے امیرِ اهلسنَّت: یا الله پاکه! څوک چې دا رساله "فیضانِ غریب نواز" اولولي یا واوري د هغه د ایمان حفاظت اوکړې او هغه سَره د مور و پلار بے حسابه اوبخښې.

اٰمین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د دُرُود شریف فضیلت

د آخري نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: د الله پاک د پاره په خپل مینځ کښې محبت لرونکي چې کله د یو بَل سره میلاؤ شي او لاس میلاؤ کړي او په نبي (صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) باندې دُرُودِ پاک اولیږي نو د هغوئي د جدا کیدو نه مخکښې د دواړو تیر شوي او راروان ګناهونه اُوبخښلے شي. (مسندِ ابی یعلی، 3/95، حدیث:2951)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## ظالم بادشاه

وائي چې یو ډیر ظالم او بد خویه بادشاه وو، د یو ښار په غاړه کښې د هغه یو ښکلے باغ وو، په کوم کښې چې د صفا سوتره اوبو یو حوض هم وو، یو الله والا په هغه ځائے تیریدلو نو

[1]...د خواجه غریب نواز رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ د کلیزې (شپږمې شریفې یعنې عُرس مبارک) 6 رجب المُرجّب 1444ھ بمطابق 28 جنوري کال 2023ء کښې په عالمي مَدَني مرکز فیضانِ مدینه (کراچۍ) کښې د مَدَني مذاکرې نه وړاندې د امیر اهلسنّت حضرت علامه مولانا محمد الیاس عطّار قادري رَضوي ضیائي دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ شوے بیان د ضروري ترمیم او اضافې سره په لیکلي شکل کښې د شعبه هفته وار رساله له خوا وړاندې کیږي۔

هغه باغ ته ئې تشريف يوړلو او د حوض په اوبو باندې يې غسل اوکړو او نـمونځ يـې اوکړو او هلته کښيناستلو او د قرآنِ کريم په تلاوت کښې مشغول شو چې په دې کښې د بادشاه د راتللو شور شو، د **الله** پاک هغه نيک بنده په اطمينان سره د **الله** پاک په ياد کښې مشغول وو، کله چې بادشاه د خپل شان او شوکت سره باغ ته داخل شو نو د حوض په غاړه چې يـې په ساده جامو کښې يو ګس اوليدو نو ډير غصه شو او خپلو سپاهيانو ته يـې په غصه کښې اووئيل: دې ګس له چا زما په باغ کښې د کښيناستو اجازت ورکړے دے؟ سپاهيان د ويرې نه غلي ولاړ وو چې ناڅاپه د هغه نيک انسان د فيض نه ډک نظر په بادشاه پريوتو، بادشاه يکدم په رپيدو شو او په زمکه راپريوتو او بے هوشه شو. د **الله** پاک هغه نيک بنده اوبه راواخستې او د هغه په مخ يـې ترمکے کړې نو په لږ وخت کښې هغه په هوش کښې راغـے، په هوش کښې چې څنګه راغـے نو هغه بادشاه په ډيره عاجزۍ سره د خپلې غلطۍ معافي اوغوښته او بيا يـې د خپلو ټولو خادمانو سره د **الله** پاک د هغه نيک بنده په لاس توبه اوکړه او د هغوئي په غلامۍ کښې داخل شو. (ہند کے راجہ، ص74 ملخصاً)

**اے د خواجه غريب نواز عاشقانو!** آيا تاسو ته معلومه ده چې هغه نيک بخته، رُعب داره، د قرآنِ کريم تلاوت کوونکـے نيک صِفَته هستي څوک وو؟ دا بَل څوک نۀ وو بلکې د سِسلهٔ عاليه چشتيه عظيم پيشوا خواجهٔ خواجګان، سُلطانُ الـهِند حضرت خواجه غريب نواز حَسَن سجزي[1] رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه وو کوم چې وړاندې بيا د هندوستان بے تاجه بادشاه جوړ شو.

خواجۂ ہند وہ دَربار ہے اَعلیٰ تیرا　　کبھی محروم نہیں مانگنے والا تیرا

(ذوقِ نعت، ص 27)

[1] ... خواجه غريب نواز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ته عوام "سنجري" وائي کوم چې صحيح نه دے۔ صحيح لفظ "سجزِي" دے [دا د سجِستان نه وتلے لفظ دے، دوئي په سجستان / سِيستان کښې پيدا شوے وو].

## د ”خواجه“ معنیٰ او تعارُف

اے د خواجه غریب نواز عاشقانو! د خواجه لفظ کیدے شي چې تاسو د ماشوموالي نه اوریدلے وي، راځئ! په دې ځای پوهه کړو چې د خواجه معنیٰ څه ده؟ ”خواجه“ د فارسۍ ژبې لفظ دے، او د دې لفظي معنیٰ ده ”سردار“، ”آقا“. (فیروزاللغات،ص633) د هغوئي نوم مبارک ”حَسَن“ دے، او لقبونه يې ډیر دي، په کومو کښې چې یو ”مُعینُ الدِّین مشهور دے، (معین الحقِ والدِّین یعنې د حق او د دین مدد کوونکے)، ”عطائے رَسول“، ”سُلطانُ الہِند“، ”غریب نواز“ وغیره. د هغوئي ولادت په 14 رَجَب شریف 537ھ مطابق 1142ء کښې د سجِستان یا سِیستان په علاقه ”سجز (ایران)“ کښې او وفات شریف يې هم د رَجَب شریف د میاشتې په 6 تاریخ کال 633ھ کښې شوے وو. (کراماتِ خواجه،ص2)

## عاشقِ قرآن زمونږه خوږ خوږ خواجه

زمونږه خوږ خوږ خواجه حافظِ قرآن او عاشقِ قرآن وو هغوئي به په هره ورځ او شپه کښې یو ځل د قرآن ختم کولو او د قرآن د هر ختم نه پس به غیبي آواز راتللو، اے معینُ الدِّین! ما ستا د قرآن ختم قبول کړو. (سیر الاقطاب(اُردو)،ص136)

## د نظر تیزولو نُسخه

حُضُور خواجه غریب نواز رَحْمَةُاللہِ عَلَیْه فرمائي: کوم کَس چې قرآنِ کریم ته ګوري ❁ د **اللہ** پاک په فضل او کرم سره د هغه د سترګو نظر زیاتیږي، د هغه سترګې چرې هم نه خوږیږي او نه وَچیږي. (معین الارواح، ص214)

اے د خواجه غریب نواز عاشقانو! زمونږه خواجه، د هندوستان راجه به روزانه دوه ځله قرآنِ کریم لوستلو او مونږه د عاشقانِ خواجه په نوم یادیدونکي په ټوله میاشت بلکې په ټول کال کښې یو ځل هم د قرآنِ کریم ختم اونکړو! دا ډیر عجیبه محبت دے! کاش چې د خواجه غریب نواز

رَحْمَةُاللهِعَلَيْه په نقشِ قدم باندې روان شو او مونږ ته هم روزانه د قرآنِ كريم د تلاوت سعادت حاصل شي. كه په كور كښې د قرآنِ كريم تلاوت كيږي نو د **الله** پاک رحمتونه به نازليږي او اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! آفتونه او بلاګانې به لرې كيږي. د قرآنِ كريم هم څومره ښكلے شان دے،

## افضل عبادت

د آخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: اَفْضَلُ عِبَادَةِ اُمَّتِیْ قِرَاءَةُ الْقُرْآنِ يعنې زما د اُمَّت اَفضل عبادت د قرآن تلاوت دے. (شعب الايمان، 2/354، حديث: 2022)

اے د خواجه غريب نواز عاشقانو! تاسو د قرآن د تلاوت فضيلت واوريدو، د قرآن تلاوت اَفضل ترين عبادت دے خو افسوس په دې عبادت كښې هم مونږ د غفلت نه كار اخلو. د ظلم د پاسه ظلم دا دے چې زمونږه د اكثريت په باره كښې اووئيلے شي نو كيدے شي چې غلطه به نه وي چې په كتلو هم د قرآنِ پاک صحيح لوستل نه ورځي. د (Tenses)،(Mathematics) علم لري، دنيائي غټې غټې ډګريانې ورسره دي او ټوله دنيا ورته تعليمِ يافته وائي خو كه دې تعليمِ يافته له په كتلو هم قرآنِ كريم لوستل نه ورځي نو دا څنګه تعليمِ يافته دے؟ دا څنګه مسلمان دے چې ده له په كتلو هم قرآنِ كريم لوستل نه ورځي.

## د رَشک قابل څوک؟

زه كله ناكله د بعضې قاري په باره كښې غور كووم نو ما له په هغه باندې رَشک راشي چې دا څومره خوش قِسمته دے چې ده له د **الله** پاک كلام په صحيح طريقه لوستل ورځي، اَرب پتيان او كهرب پتيان يو اړخ ته او په صحيح طريقه د قرآنِ كريم تلاوت كوونكے بَل اړخ ته، دا زما د زړهٔ احساسات دي، ما ته د قرآنِ كريم لوستلو والا د رَشک قابل ښكاري، څه نا څه وخت مقرر كړئ او تلاوت كوئ، كه يوه سيپاره، نيمه سيپاره، كه نه وي نو يو پاؤ لولئ، كه روزانه څه نا څه تلاوت

کيږي نو اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! د دې برکتونه به درنصيب کيږي، د الله پاک د رضا د پاره کوشش کول پکار دي. راځئ چې د خواجه غريب نواز رحمۃُاللہِعلیہ په بارګاه کښې فرياد اوکړو:

رَب کی عبادت کی دُشواری اور گناہوں کی بیماری
دونوں آفتیں دُور ہوں خواجہ یاخواجہ مری جھولی بھردو

(وسائل بخشش، ص68)

**صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

## حُضُورِ غوثِ پاک او خواجه غريب نواز

اے د اولياؤ عاشقانو! حضرت خواجه غريب نواز مُعينُ الدِّين حسن سجزي رحمۃُاللہِعلیہ نجيبُ الطَّرفَين (يعنې حَسَني حُسيني سيد) دے.

مَلَکُ التّحرير، حضرت علّامه اَرشدُ القادري رحمۃُاللہِعلیہ ليکي: د والد [يعنې پلار] محترم له طرفه د هغوئي نسب د رسولُ الله (صلَّی اللہ علیہ والہٖ وسلَّم) د نمسي شهيدِ کربلا حضرت امامِ حُسين رضی اللہ عنہ او د مور محترمې له طرفه د هغوئي سلسله د علىُّ الْمُرْتَضٰى رضی اللہ عنہ د ځيګر د ټُکړې او د فاطمه رضی اللہ عنہا د ستركو د تور حضرت امامِ حَسن مُجتبىٰ رضی اللہ عنہ سره ميلاويږي. د سرکار غريب نواز رحمۃُاللہِعلیہ مور بي بي د حضور غوثِ پاک (شيخ عبد القادر جيلاني رحمۃُاللہِعلیہ) د ترۀ لور ده، په دې خپلوئ سره حُضُورِ غوثِ پاک د خواجه غريب نواز رحمۃُاللہِعلیہ ماما کيږي.

(حیاتِ خواجۂ اعظم، ص69)

یا معینَ الدّین اجمیری! کرم کی بھیک دو از پئے غوث و رضا خواجہ پیا خواجہ پیا
شَبَّر و شَبّیر کا صَدْقہ بلائیں دُور ہوں اے مرے مشکلکشا خواجہ پیا خواجہ پیا

(وسائلِ بخشش، ص536)

**صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

## د خواجه کرامات په ژبه د امام احمد رضا

اعلیٰ حضرت، امام احمد رضا خان رحمۃُاللہِعلیہ فرمائي: د حضرت سُلطانُ الـهِند خواجه غریب نواز رحمۃُاللہِعلیہ د مزار نه ډیر فیض او برکتونه حاصلیږي، مولانا برکات احمد صاحب مرحوم کوم چې زما پیر بهائي او زما د والد صاحب شاګرد وو هغوئي ما ته بیان کړل چې ما په خپلو سترګو اولیدل چې یو غیر مسلمه وو، چې د هغه د سر نه واخله تر ښپو پورې ټول بدن باندې غټې دانې راختلې وې، **خُدائے** خبر چې څومره دانې وې. هغه غیر مسلمه به ټیک د غرمې په وخت د خواجه غریب نواز رحمۃُاللہِعلیہ مزار شریف ته راتلو او د دربار شریف **مخې** ته به په ګرمو کاڼو ډډې په ډډې اَووښتو او ورسره ورسره به یـې دا وئیل: ***کھواجہ اَگن لگی*** (یعني، اے خواجه! سوزم، یعني په بدن مې وور بل دے). په دریمه ورځ ما اولیدو چې بالکل ټیک شوے وو.

(ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت، ص384)

د اعلیٰ حضرت رحمۃُاللہِعلیہ ورور حضرت مولانا حَسَن رضا خان رحمۃُاللہِعلیہ د خواجه غریب نواز په بارګاه کښې عرض کوي:

پھر مجھے اپنا دَرِ پاک دِکھادے پیارے    آنکھیں پُر نور ہوں پھر دیکھ کے جلوہ تیرا

(ذوقِ نعت، ص28)

**صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

## 30 کاله اوښکې توئیول او د نـمونځ غم

حُضُور خواجه غریب نواز رحمۃُاللہِعلیہ د خپل سیاحت [یعني سیل] په ذِکر کښې فرمائي: زه یو ځل یو ښار ته لاړم کوم چې د شام مُلک په خوا کښې وو، د ښار نه بهر یو غار وو په هغې کښې یو بزرګ شیخ اَوحد **محمد** اَلوَاحِد غریزي رحمۃُاللہِعلیہ اوسیدو، هغه دومره ضعیفه وو چې په بدن کښې یـې هډوکي ښکاریدل، زه چې د ملاقات د پاره حاضر شوم او اومې کتل نو هغه په

جائے نماز باندې ناست وو او په خوا کښې يـې دوه ازمري ولاړ وو، د ويرې په وجه ما د هغه خوا له د ورتللو هِمّت نه شو کولے، په دې کښې هغه ما ته اوکتل او اوئې فرمائيل: مهٔ ويريږه، راشه! زه ورنزدې شوم او د سلام او مُصافحې کولو (يعنې لاس ميلاوهلو) نه پس کښيناستم. هغوئي ورومبئ خبره زما سره دا اوکړه چې تر څو پورې تهٔ د څه څيز اراده نه کوې هغه به ستا اراده نه کوي، چې ستا په زړهٔ کښې د **الله** پاک ويره وي نو هر څيز به ستا نه ويريږي، د ازمري څه مجال چې هغه تا ويروي. خواجه صاحب فرمائي: د دې نه پس يـې زما حال احوال معلوم کړو او په نصيحت کښې يـې راته اوفرمائيل: د بزرګانو خدمت کوه بزرګ به شې. بيا يـې خپل حال بيانولو کښې ارشاد اوفرمائيل: زما په دې غار کښې د اوسيدو ډير کلونه اوشول، د مخلوق نه يوې ډډې ته شوے يم او د ديرشو کالو نه د يو څيز غم ما شپه ورځ ژړوي، ما عرض اوکړو: حُضُور! د څه څيز غم؟ اوئې فرمائيل: "د نـمونځ غم." نور يـې اوفرمائيل: زه چې کله هم نـمونځ کووم نو خپل ځان ته چې ګورم نو ژاړم چې که څه شرط پکښې رانه پاتې شو نو نـمونځ به زما په مخ باندې راويشتے شي او هر څه به برباد شي. بيا يـې په نصيحت کښې اوفرمائيل: که تا د نـمونځ حق ادا کړو نو واقعي غټ کار دې اوکړو، که نه وي نو صرف عمر دې ضائع کړو، زما په بدن چې صرف هډوکي او څرمن ښکاري د دې سبب هم دغه غم دے چې ما ته معلومه نه ده چې ما تر ننه پورې د نـمونځ حق ادا کړے دے او که نه. نـمونځ ډيره غټه ذمه واري ده، څوک چې دا ذمه واري نه پوره کوي هغه به د قيامت په ورځ د شرمندګئ سره مخ کيږي او د مخ ښودلو قابل به پاتې نه وي. د دې واقعې بيانولو نه پس حضور خواجه غريب نواز رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د اوښکو نه ډکو سترګو سره (يعنې په ژړا) نصيحت اوفرمائيلو: "نـمونځ د دين ستن ده، تر څو چې ستن سلامته ده، کور سلامت دے، کله چې ستن راپريوځي نو کور به هم راپريوځي." د اسلام او دين د پاره نـمونځ د ستن په شان دے ځکه که په نـمونځ کښې خرابي پيدا شي نو د اسلام او د دين د خرا بيدو سبب به وي.

(دليل العارفين، ص11، ملتقطاً و مفهوماً)

## نــمونځ د عزّت سبب دے

اے د خواجه غريب نواز عاشقانو! تاسو اوکتل! د بزرګانو په نز د نــمونځ څومره اهميت دے. د دُنيا نه د يو طرف ته کيدل او په غار کښې د اوسيدو او د دومره عبادت او رياضت کولو باوجود د نــمونځ په باره کښې فرمائي چې زما سره د نــمونځ غم دے. [اوس مونږ چې سوچ اوکړو نو] مونږ له نــمونځ راځي کله؟ د نــمونځ شرطونه، د نــمونځ فرض چا له ورځي! د دې باوجود مونږه دا ګڼو چې مونږ ډير نــمونځ ګزاره او نيکان خلق يو. په پريشانو کښې اخته بے لــمانځه خلق دا وائي چې پته نه لګي داسې څه خطا رانه شوې ده چې پريشاني مې نه حل کيږي! د نــمونځ نه کولو خرابي ورته هډو ښکاري نه. د حضرت خواجه غريب نواز رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ د ارشاداتو مشهور کتاب "دليلُ العارِفين" کښې دي: بنده صرف په نــمونځ کولو عزت مند کيدے شي. آيا بے نــمانځه هم عزت والا دے! نــمونځ د مؤمِن معراج دے، د ټولو مقاماتو نه زيات اوچت نمونځ دے، **اللّٰه** پاک سره د ملاقات د ټولو نه وړومبئ ذريعه هم "نــمونځ" دے. د مسلم شريف په حديثِ پاک کښې دي: نــمونځ کوونکے د خپل **رَبّ** کريم نه مُناجات کوونکے دے. (مسلم، ص220، حديث: 1230) (دليل العارفين، ص3)

حُضُور خواجه غريب نواز رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي: نــمونځ يو امانت دے کوم چې **اللّٰه** پاک خپلو بندګانو ته حواله کړے دے، لهٰذا په بندګانو باندې لازم دي چې هغوئي په دې امانت کښې هيڅ قِسمه خِيانت نه کوي. (دليل العارفين، ص10)

ہر عبادت سے بَرتَر عبادت نَماز — ساری دولت سے بڑھ کر ہے دولت نَماز
نارِ دوزخ سے بے شک بچائے گی یہ — رَب سے دِلوائے گی تم کو جنَّت نَماز
یاخُدا تجھ سے عطّاؔر کی ہے دُعا — مُصطفٰے کی پڑھے پیاری اُمَّت نَماز

(وسائلِ فردوس، ص22، 23)

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

## په مکه مدينه کښې نـمونځ

**الله** پاک دې مونږه ټول د حُضُور خواجه غريب نواز رَحْمَةُاللهِعَلَيْه په وسيله نـمونځ ګزاره جوړ کړي، اوګورئ! د نـمونځ نه بغير به څوک هم په دين کښې ترقي اونکړے شي اګر که د دنيا ظاهري ترقي اوکړي خو په دين کښې ترقي د نـمونځ په ذريعه ده، نـمونځ چا ته هم معاف نه دے، په مونږ باندې پينځه او زمونږه په خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې شپږ نـمونځونه فرض وو، آو جي! په حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې تَهَجُّد هم فرض وو. (تفسير قرطبي، پ30، المزمل، تحت الآيه:2، 29/10) هغوئي چرې هم نـمونځ نه وو پريښودے، ټول صحابهٔ کرام نـمونځ ګزاره، ټول اوليائے کرام نـمونځ ګزاره، يو ولي هم بے لـمانځه نشي کيدے. اوس که څوک نـمونځ نه کوي يا د نـمونځ په وخت ناست وي او ګپونه لګوي يا هسې ناست وي او ځان ته رسيدلے وائي چې دے خو کله په مکه کښې، کله په مدينه کښې نـمونځ کوي او که د مُريدانو نه يې پوښتنه اوکړې نو وائي: پير صاحب سر ښکته کړي او نـمونځ اوکړي مونږ يې نه وينو. مونږ له د داسې پيرانو په کوڅه هم تيريدل نه دي پکار.

**صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

## د نـمونځ قضا کولو عذاب

څوک چې قصداً يو نـمونځ قضا کړي نو د دوزخ يوه خاص دروازه ده په کومه چې د نـمونځ قضا کوونکي نوم ليکلے کيږي په کومه به چې هغه دوزخ ته داخليږي. اعلیٰ حضرت، امام اهلسنت، مولانا شاه امام احمد رضا خان رَحْمَةُاللهِعَلَيْه فرمائي: څوک چې قصداً يو نـمونځ قضا کړي نو هغه په زرګاؤ کاله د دوزخ د عذاب حقدار دے، تر څو چې توبه اونکړي او د هغې قضا را اونه ګرځوي. (فتاویٰ رضويه، 158/9) نـمونځ قضا کول کبيره [يعني غټه] ګناه ده خو افسوس اوس چې څوک نـمونځ نه کوي هغه ډير عزت مند شوے دے، دنيا د هغه ډير احترام

كوي او ډېر قدر يـې كوي، حالانكه

روزِ محشر كه جاں گُداز بُوَد     اَوّليں پُرسشِ نماز بُوَد

يعنې د قيامت په ورځ به وِيلې كوونكې سخته كړې وي هغه وخت به د ټولو نه وړومبے د نـمونځ په باره كښې پوښتنه كيږي او د چا نـمونځ چې صحيح نه وي نو د هغه وړاندې معاملې به نورې هم خرابې وي.

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## وړومبے نـمونځ ګزاره بيا نياز ګزاره

اے د خواجه غريب نواز عاشقانو! د نـمونځ نه بغير هيڅ لار نشته، كه تاسو ډېر نيازونه [يعنې خيراتونه] اوكړئ، هر كال په شپږمه شريفه شپږ زره او په يوولسمه شريفه يوولس زره ديګونه پاخه كړئ، خو كه نـمونځ نه كوئ نو خلاصے مو مشكل دے، كه د غريبانانو، كونډو مدد كوئ، كه غريبانان په روزګار لګوئ خو كه نـمونځ نه كوئ نو بچ كيدل مو مشكل دي. زه د ډيرو كلونو راسې وايم "زه نـمونځ ګزاره هم يم او نيازي[1] [يعنې بزرګانو پسې خيرات كوونكے] هم يم" خو وړومبے نـمونځ ګزاره يم بيا نياز ګزاره. نـمونځ فرض دے او نياز مستحب. نياز به هم نه پريږدو چې دا د اهلسنت په معمولاتو كښې دے، مونږ له دواړه كول پكار دي، چې نـمونځ كوو نو د نـمونځ په بركت به نياز هم قبول شي اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم. **الله** پاک دې مونږ ټول نـمونځ ګزاره جوړ كړي او د ګناهونو نه دې حفاظت راكړي او د بزرګانو په نقشِ قدم باندې د تللو او د حُضُور خواجه غريب نواز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه په وسيله مو دې خپل محبوب بندګان جوړ كړي.

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

---

[1] ... هسې نيازي يوه قبيله هم ده، دلته د نيازي نه مُراد د بزرګانو نياز [خيرات] كوونكے.

## نــمونځ، روژه به نه پرېږدم

اے د خواجه غریب نواز عاشقانو! ټول نیت اوکړئ چې د نن نه پس به زه یو نــمونځ هم نه قضا کووم، د رَمَضَانُ الْمُبَارَک روژې به نه قضا کووم اِنْ شَآءَاللهُ الْکَرِیم. او مَعَاذَالله! تر اوسه پورې چې څومره هم نــمونځونه قضا شوي دي د ټولو حساب به لګووم او هغه به ادا کووم ځکه چې د توبه کولو سره مخکښيني [قضا شوي] نــمونځونه نه معاف کيږي تر څو چې هغه ادا شوي نه وي. خدائے دې نه کړي که چا نه د رَمَضَانُ الْمُبَارَک روژې قضا شوې وي نو څومره چې زر کيدے شي هغه هم اونيسئ.

## د ګناه اِظهار

خدائے دې نه کړي که د چا نه نــمونځونه يا روژې قضا شوې وي نو چا ته يــې مه وايئ ځکه چې د شرعي اجازت نه بغير د ګناه اظهار هم ګناه ده، بعضې نادانه په زرورتيا سره د ټولو په مخکښې وائي چې ما فلانکے ګناه اوکړه، زه مخکښې غل يا ډاکو ووم وغيره داسې نه دي وئيل پکار، البته ضرورتاً نورو ته د ترغيبورکولو د پاره وئيل چې زه دنيا داره او د نيکو نه لرې ووم الله پاک دې د دعوتِ اِسلامي والؤ سره ښه اوکړي دوئي زه سمې لارې ته راوستم، لهٰذا تاسو هم دعوتِ اِسلامي ته راشئ وغيره، په داسې طريقه د ترغيب ورکولو د پاره په وئيلو کښې څه باک نشته.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

دلته د اميرِ اهلسنت بيان ختم شو، د دې نه پس نور مواد ''د ملفوظاتِ اميرِ اهلسنت'' نه اخستے شوے دے.

## د خواجه صاحب په عُرس کښې د شرکت کولو نیتونه

❁ورومبے خو دا نیت اوکړئ چې د حُضُور خواجه غریب نواز (سیّد مُعینُ الدِّین حَسَن سجزي اَجمیري) رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ په بارګاه کښې او چې څومره هم د هغوئي په خوا کښې آرام فرمائي هغه ټولو عاشقانِ خواجه ته به د اِلیاس قادري سلام عرض کووم. ❁نور دا نیت اوکړئ چې د اولیائے کرامو رَحِمَہُمُ اللّٰہُ عَلَیْہِم صحبت به اختیاروم، ځکه چې

یک زمانہ صحبتِ با اَولیا    بہتر اَز صَد سالہ طاعتِ بے رِیا

❁ یعني د اولیائے کرامو رَحِمَہُمُ اللّٰہُ عَلَیْہِم د لږ ساعت صحبت د 100 کالو خالص عبادت نه زیات دے. ❁ دا نیت هم اوکړئ چې د اولیائے کرامو رَحِمَہُمُ اللّٰہُ عَلَیْہِم برکتونه به حاصلووم ❁ هلته به دعاګانې کووم چې د **اللّٰه** پاک د نیکانو بندګانو په خوا کښې دعا کول قبولیت ته هم زیات نزدې وي. ❁ هلته به ایصالِ ثواب کووم ❁ د مسلمانانو سره به میلاویږم ❁ که هلته د حاضرئ څه غلطه طریقه اووینم نو د فتنې د اندیښنې نه پیدا کیدو په صورت کښې به پوهول کووم. هلته دعوتِ اِسلامي والا هم ډیر زیات وي او مَدَني قافلې هم راځي نو ❁ دا نیت هم اوکړئ چې د مَدَني قافلې والؤ سره به خپل وخت تیروم. (ملفوظاتِ امیر اہل سنّت، 5/192)

## د غریب نواز څه معنیٰ ده؟

سوال: د غریب نواز څه معنیٰ ده؟

جواب: د "غریب نواز"معنیٰ ده: غریبانانو ته عطا کوونکے، غریبانانو ته د سخاوت دروازې برسیره کوونکے او د هغوئي څولئ ډکوونکے. اَلْحَمْدُ لِلّٰه! زمونږه خواجۀ خواجګان غریبانانو ته عطا کوونکے او د سخاوتونو نه مالا مال کوونکے دے. (ملفوظاتِ امیر اہل سنّت، 5/229)

# د خواجه غریب نواز وِصال

**سوال:** خواجه غریب نواز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په څومره عمر کښې وصال فرمائيلے وو؟

**جواب:** حضور خواجه غریب نواز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د 96 کاله په عمر کښې وصال فرمائيلے وو.

(اللہ کے خاص بندے عبدہ، ص 507)

# د خواجه غریب نواز د خپل مُرشد د مزار اَدَب


د دعوتِ اِسلامي د مکتبةُ المدینه د رسالې "**فیضان خواجہ غریب نواز**" په شپاړسمه صفحه کښې دا واقعه لِیک ده چې یو ځل خواجه غریب نواز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خپلو مُریدانو ته ملفوظات عطا کول. په خبرو خبرو کښې به هغوئي یو اړخ ته مخ کولو او بیا بیا به اودریدلو، چې د بزرګانو بعضې وخت خپل یو کیفیت وي. په مُریدانو کښې بَل چا څه همت اونکړو چې د دې وجه معلومه کړي، خو یو منظورِ نظر مُرید پوښتنه اوکړه چې د بیا بیا اودریدلو وجه بیان کړئ د پاره د دې چې زمونږه حیرانتیا ختمه شي. خواجه صاحب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اوفرمائيل چې زما د پیر و مُرشد حضرت شیخ عثمان هَروَني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مزار مبارک دې اړخ ته دے. بس د خبرو په وخت چې به کله ما ته رایادیدل نو ما به مخ دې اړخ ته اړولو او د اَدَب او تعظیم په وجه به اودریدم. (فوائد السالکین مع ہشت بہشت، ص 138) د خواجه صاحب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د پیر صاحب نوم حضرت شیخ عثمان هَروَني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه دے، بعضې خلق دا هَرُوني یا هاروني لولي خو په اصل کښې دا هَروَني دے. د هغوئي مزار مبارک د مکے مکرمې په مقدسه هدیره جنَّتُ المَعلیٰ کښې دے. خواجه صاحب به د دومره لرې والي باوجود د خپل پیر صاحب د مزار احترام کولو. بهر حال دا د اَدَب او احترام داسې واقعات دي کوم چې هر څوک نشي کولے او چا چې کړي دي په هغوئي څه اعتراض هم نشي کیدے ځکه چې داسې ادب او احترام کوم چې د شریعت د اُصولو خلاف نه وي، د شریعت د څه ممانعت لاندې نه راځي، جائز دے. شریعت د دې نه منع نه ده فرمائیلې او خلق د عقیدت او محبت د اظهار د پاره د شریعت دننه چې په خپل خپل انداز

کښې څه کوي نو هغوئي ته غلط ويوونکے پخپله په غلطئ دے. د دې خبرو د ثبوت غوښتلو نه مخکښې سوچ پکار دے چې داسې ډيرې خبرې دي د کومو چې په قرآن او حديث کښې صراحت نه ميلاويږي خو هر څوک هغه کوي. (ملفوظاتِ امیر اہل سنّت، 191/2)

خواجۂ خواجگان غریب نواز ، غریب نواز قبلۂ عارفاں! غریب نواز ، غریب نواز
سیدِ زاہداں! غریب نواز ، غریب نواز زینتِ عارِفاں! غریب نواز ، غریب نواز
مرشدِ ناقصاں! غریب نواز ، غریب نواز رہبرِ کاملاں! غریب نواز ، غریب نواز
ہادیِ گُمرہاں! غریب نواز ، غریب نواز مُصلِحِ عاصِیاں! غریب نواز ، غریب نواز
حامیٔ بے کساں ! غریب نواز ، غریب نواز ہیں کسِ بےکساں! غریب نواز ، غریب نواز
اے شہِ صالحاں! غریب نواز ، غریب نواز ہم پہ ہوں مہرباں! غریب نواز ، غریب نواز

(وسائلِ فردوس، ص62)

## د راتلونکې اونۍ مجله





978-969-722-590-3

01082460

فیضانِ مدینہ، محلہ سوداگران، پرانی سبزی منڈی کراچی

UAN +92 21 111 25 26 92 0313-1139278

www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net

feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net